ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار
۲۰۱۶/۰۹/۱۹

# د ځناورو واکمني او یرغل خان

## لمړی برخه

«تاریخ، ناول [افسانه، داستان، حکایت] دی چې واقعاً پېښ شوی و؛ ناول تاریخ دی چې ښایي پېښ شوی به وي.»(د دوو



فرانسوي ورونو ایدموند او جولز دو ګونکورت لیکنه: مفکورې او احساسونه،۱۸۶۶). دواړه ورونه تکړه لیکوالان، کره کتونکي او د نولسمې پېړۍ په پاریس کې د ټولنیز او ادبي ژوند وتلي څېرې وې.

Edmond and Jules de Goncourt, Ideas and Feelings, ۱۸٦٦

یوې برتانوي افسانه لیکونکې، ډرامه لیکونکې او شاعرې، دوریس لیسینګ (۱۹۱۹تر ۲۰۱۳) ویلي وو چې «بې له شکه افسانه د واقعیت په اړه ډېر روغ رول لوبولی شي».

زه دلته په یوه غټه سیاسي ډرامه غربیږم چې غټه برخه یې په یو ناول(حکایت) راڅرخیږي- په هغه حکایت چې واقعاً پېښ شوی و، ما رالنډ کړی دی ، د روغ پـو هاوي او خوند لپاره مې پکې پښتو نـومونه کارولی دي، او خال خال مې پکې خپل مرچ مساله هم ګډ کړی دي. په ډرامه کې راته ټول شعرونه ارواښاد والي صاحب سخي احمد فرهاد لیکلي وو.

## ننتوخ

د دې لیکنې په مطلب هغه مهال سم پوهیدلی شئ چې بې له مخکني قضاوت نه یې په سړه سینه له پیل نه تر پایه پورې ولـولئ او بیا د تاریخ ساز (فکري یا عقیدوي) انسان په ځیرخپل ګریوان ته وګورئ چې څه مو لیدلي او اوریدلي دي. زه دلته په یو ناول غربیږم چې واقیعت یې انځورکړی دی

انسان هغه تایخ ساز مخلوق دی چې د تاریخ د سمندر په غاړو کې اوسیـږي، نه د هغه په منځ کې غوټې وهلی شي او نه یې د ځپو په هکله له خپل تصور نه ځان خپلواکولی شي. د دغه تاریخ ساز مخلوق مسئولیت دا دی چې له خپل تاریخ نه د خپلې سترګورتیا او خپل بـدلون الهام واخلي، په دې شرط چې په تاریخ کې د خپلې هدیرې په ډول ژوند ونکړي، بلکې خپل خلاقیت ژوندی وساتي. تاریخ ساز مخلوق (انسان) د هسک ځښتن له خوا په ځمکه (کایناتو) کې ناستن (خلیفه) غوره شو ځکه چې په عقل یې ښادمن کړی و. تاریخ ساز مخلوق (که عقیدوي انسان وي او که فکري انسان وي) باید د خپلې زماني انسان وي او د خپلې زمانې په سویه د عقل ښتن وي. عاقل او تاریخ ساز مخلوق باید خپل تصور د خپلې زمانې د واقعیتونو سره پوخلا کړي ، نه دا چې واقیعتونه د خپل تصور مزدوران کړي. د خپلې زمانې انسان باید د دې وس ولري چې خپل تصور، که څه هم ډېر نیک به وي، د خپلې زمانې د واقعیتونو په اینه کې ووینې، نه دا چې اینه ماته کړي اوپه واقعیتونو پـنه را وکاږي. خو که دغـسې و نکـړي، په ځمکه کې خلیفه شوی انسان به په خپلو ذهني شوقونو کې ښکیلیـږي، بیـخرته (محیرالعقول) کړاندو ته به اړ کیږي، رټلي استبداد ته به د مشروعیت او سپیڅلتیا پټکی ور په سرکوي او له دې امله به د عـقل سره تربګـني پالي



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

اود ځان سره به خپل هیواد او هیوادوال د تاریخ کندې ته سیخوي. دلته به د ښارویتوب په اصولو، د ځناورو په انقلاب ، د هغوی په بادي ژرنده او بیرته د انساني ټولنې سره د هغوی د اړیکو په تینګولو و ګړیږم .

## د ښارویتوب اصول او هوایي ژرنده

## څلور پښیځه ښه دي او دوه پښیځه بد

د دې لیکنې په خوند هغه څوک پوهیدلی شي چې ټول «انساني چټیات» یې له منځه نه وی تللي او «عقل پروف» یانې عایق العقل او دفع الفکر نه وي. دا لیکنه د یوه حقیقت هغه خیال دی چې د ځناورو واکمني پکې تمثیل شوې ده او ویښ فکران پکې د زورواکی (استبداد»)، مغزو مینځلو، تاریخ وژلو، د انساني چټیاتو د له منځه وړلو، او په پای کی د انسان «شیطاني» مغزو او لاسونو ته د بیا اړکید نې پړاونه لیدلی شي. دلته خندا له ژړا نه نه شرمیږي. ددې زړه بریښوونکې ځناوریزې ډرامې لوبغاړي په دې ډول دي: (۱) محمد څرګند خان کاکا د «چینارکوټ» د فارم خاوند او ډیر زوړ سړی و. هغه نه پخپله څه کولی شول او نه یی خپل قومیان پرېښودل چې نوکې بدلون راولي، ځکه څرګند خان کاکا په تنکۍ ځوانۍ کې د امان خان کاکا خرَپ او ترَپ لیدلي وو. ځناورو چې چینارکوټ په خپله ولکه کې راوست، د محمد څرګند خان کاکا قومیانو ځانونه څنډې ته کړل او د نوې سیاسي لوبې د تماشاچیانو رول یې ولوباوه، ځکه د هغوی غټ اکثریت کوم ځانګړی فکري بنسټ نه لاره. د توري شرنګ او د ټوپک ډز د ولس په شعور کې پاخه شوي وو. (۲) سوربخت مکرجن خوګ و او یوه شپه یې نورو ځناوروته خپله انقلابي وینا د«ځناورستان د ځناورو» په ترانه پای ته ورسوله. له دې نه درې شپې وروسته، سوربخت د ځناورتوب د واکمنۍ په ارمان له ژوند نه سترګې پټې کړې. (۳ تر ۴) شینا او مانو دواړه لومړئ درجه معتبر خوګان وو. شینا د ځناورو له انقلاب نه وروسته، د «ځناورو د فارم» لومړی واکمن شو. مانو ډیر سرتمبه خوګ و. (۵) په دوهمه درجه خوګانو کې ارګجه په استدلال کی نوم ویستلی و او د تبلیغ د چارو مشر شوی و.(۶تر۷) شډل او ټاکو د ریړې د راښکلو لپاره د محمد څرګندخان کاکا اسونه وو. (۸) سوډر تر ټولو زوړ ښاروی او بدخوی خر و. اوس نو پیښې شوې افساني ته کلک غوږ ونیسئ

## (الف) په چینارکوټ کې د ځناورو کرغیړنه وضعه او د انقلا ب ترتیبات

د «چینارکوټ» د فارم خاوند محمد څرګند خان کاکا یو زوړ سړی و، د مټو زور یې اوبه شوی و اوله دې امله چینارکوټ مخ په شړیدلو و. د هغه د فارم ښاروي هم اندیښمن وو چې که څرګند خان کاکا نه وي چینارکوټ به وچ شي او د هغوی اخور به تش شي. محمد څرګند خان کاکا نه پخپله څه کولی شول، نه یې خپل قومیان پرېښودل چې نوکې بدلون راولي، ځکه هغه په تنکۍ ځوانۍ کې د امان خان کاکا خرَپ او ترَپ لیدلي وو. سوربخت یواځینی ښاروی و چې محمد څرګندخان کاکا ته له اوږدې مودې راهیسې متوجه و. سوربخت مکرجن خوګ و، ډیر ځلې به په غوجل کې ځانله پروت و او له دې امله یې وخت لاره چې یو څه فکر وکړي. د فارم په نورو ځناورو کې هم ګونګوسی خپرې شوی وی چې تیره شپه سوربخت د ځناورو په هکله یو ښه خوب لیدلی دی. د ماښام خړه چې خپره شوه، نو څرګندخان کاکا له خپل کور نه راووت او ګوډ ګوډ روا ن سو. په لاس کی یی څراغ اخوا دیخوا ټوپونه وهل. د چرګانو کوډلې یې وتړلې او بیا نیغ د خوب کوټې ته لاړ او سر یې د بړستنې لاندې کړ. د فارم ځناور یو په بل پسې د انبار لویې کوټې ته ورننوتل. هلته سوربخت په یو لوړ ګوټ کې په پستو وښو کې غلی پروت و. سوربخت په ډیره سختۍ سره په درې پښو ودرید، په څلورمه پښه یې په موګي کی د ځوړندې ډیوې رڼا یو څه زیاته کړه او راپڼډ شوو ځناورو ته یې داسې وینا وکړه:«ماته مخامخ پرتو ځناورو! زه په چینارکوټ فارم کی د خپلې اوږدې تجربې په برکت تاسې ته داډ درکوم چې د ځناورو د ژوند په هکله له هرچا ښه پوهیږم. زموږ ژوند په سختوکارونو ډک دی او ډیر لنډ دی. زموږ اصلي غلیم انسان دی او بس! انسان یواځینی پیدایښت دی چې تولید نه کوي خو خوراک څښاک له هرچا نه ښه کوي. انسان شیدې نه ورکوي، هګۍ نه اچوي، یوې او غاښورې نشي راښکلی، سوی په منډه نشي نیولی، دروند بار نشي وړلی، غوښه

يی د خوراک وړ نه ده او له پوټکي نه يي هيڅ کار نه اخيستل کيږي. خو بيا هم د ځناورو د زور واکي د انسان په لاس کي دي. انسان ټول ښاروي په کار اچوي، تنظيموي يي، د کار د حاصل غټی برخی يي په خپل جيب کی ږدي او ښارويو ته دومره څه ور پريږدي چي ايله شپه يي پری سبا شي. زه ستاسي لپاره يو پيغام لرم اوهغه دا چی که انسان له ډګره وباسئ، هرڅه به مو سم شي. دغه هدف ته د رسيدلو لپاره انقلاب حتمي دی. د انقلاب له برياليتوبه وروسته دي هيڅ ځناور په کور کی نه اوسيږي، توشکه او برستن دي نه استعمالوي، جامي دي نه اغوندي، تجارت دي نه کوي، پيسي دي نه راغونډوي، او يو ښاروی دي په بل ښاروي ظلم نه کوي ځکه چی ټول ښاروي مساوي دي. ورک دي وي انسانان! سر لوړی دي وي ځناورتوب!» سوربخت له ورايه دروند او زړه سواندی خوک معلوميده. هغه خپله وينا د «ځناورستان ځناورو» ته په يوه ترانه پای ته ورسوله چی د لرغونو ځناورو په راپنډيدنو کي  يي رواج لاره

| | |
|---|---|
| ځـناورو په هـر ملک کي د جهـــان | واورئ دا د ارمـا نونـو ډک بـــيان |
| د راتـــلونکي حيواني ژوندون لپـاره | ګيلم جم ګړئ په هرځای کي دانسان |
| خوارو زارو ځناوروهـري خوا کي | که بزي ياستئ که خره او که اوښان |
| که پيشودی که زمری دی اوکه سپی | په نسب او ذات کي خپل دي چارپايان |
| که بـريـږي که انيـږي که سونګيـږي | هر چارپای د ډک اخور په ډير ارمان |

ترانې د انبار د کوټې ټول ځناور په مستی راوستل او ډير ځلي يي تکرار کره. ساده ځناورو لکه اسونو، خرو او کچرو د ترانې يو څو ټکي زده کړل، خو د خوګانو او سپيو غوندي هوښيارو ځناورو ټوله ترانه زده کړه.  د اسونو، خرو او کچرو لويه ځانګړتيا داوه چي هيڅکله به يي له خپلو مشرانو (خوګانو) نه پوښتنه نه کوله. دري شپي وروسته زوړ خوک سوربخت د ځناورتوب په ارمان له ژونده سترګي پټي کړي. خو د هغه وينا او ترانې په نــورو ځناوروکي د ځناورتوب  مـفکوره (فکرولوجي) راويـښه کړي وه.

خوګان د نورو ځناورو په کچه هوښيار وو او له دي امله يي د نورو ځناورو د ښوونې او روزنې چارې په لاس کي ونيولي. د ټولو خوګانو له ډلي نه  شينا او مانو معتبر خوګان وو چي د چينارکوټ د فارم څښتن محمـد ځرګند خان کاکا د خرڅولو لپاره ښه ساتلي وو. شينا حاضرځوابی او خبرلوڅ خوک و. په مقابل کی يي ما نـو سخت مزاجی ، کينه ناک او پوچ ژبی خوک و. په دوهمه درجه خوګانو کی ارګجه مشهور وو. دی لنـډی او څورب خوک و. په خبرو کي تکړه و او د وينا په مهال به يي لکی تاوولـه چی نور ښاروي د اغيز لاندي راولي. د چينارکوټ د فارم په ځـناورو کي آوازه خـپره شوې وه چي ارګـجـه د خپل استدلال په مټ له تور نه ســپيـن او له سپين نه تـور جـوړولی شـي. له دي امله د ډنډورو(تبليغ) چاري د ارګجه په لاس کي وي . شينا، مانو او ارګجه به د شپي له خوا د چينارکوټ د ګودام په کوټه کي پټ راپنډيدل او نورو ځناورو ته به يي د سوربخت د وينا او ترانې په رڼا کي د ځناورتوب اصول ورزده کول

محمد ځرګندخان کاکا د خپلي ريږي د رانښکلو لپاره دوه اسونه ساتلي وو: د يوه نوم شـډل و او دبل نوم ټـاکو، دواړه اسونه د خوګانو ډير وفامن شاګردان وو. شـډل او ټاکو به د خوګانو هـره خبره په پټو سترګو منله ځکه چی په خپله يي هــيڅ فکر نه شو کولی.  ځرګند خان کاکا ډير زوړ شوی وو او د فارم وضعه يي ښه نه وه.  د هغه د فارم (چينارکوټ)  ډير پـټي چټـي او وحشي ونو نيولـي وو او د انـبار غټـه کـوټه يـي څڅوبو خـرابه کړي وه. د ځـرګند خان کاکا نوکرانو هم د ځناورو د هوسايۍ هيڅ پروا  نه ساتله. نور هـيوادوال هـم په دې کي ياتي راغلل چي په خپل چينار کوټ کي د هوسا ژوند او خپلواکی لپاره د کومي ځرګندي تګلاري سپارښتنه وراندي کړي او خپل نور چينار کوټيان هم د خپلي تګلارې د هدفونو لپاره په پرله پسي ډول تنوير او تنظيم کړي. بل مهم ټکی دا و چي د چينار کوټ په ګاونډ کي يوه نوی مفکوره پلي شوې وه چي د سوربخت

د ارمان لپاره یوه نمونه وه. بس، د چینارکوټ لپاره د غټ خوب لیدل د سوربخت وظیفه شوه؟! ځناور به ټوله شپه نیم ګیډي ولاړ وو. د چینارکوټ فارم په مزه مزه د څرګند خان کاکا له ولکې نه ووت، او د ځناورو حوصله ډیره تنګه شوه. ناڅاپه یې په څرګندخان کاکا ور ودانګل او هغه یې د خپلو نوکرانو سره په یو تراټ له فارمه په تیښته مجبور کړ، او د چینارکوټ فارم د انقلاب له لارې د ځناورو په منګولو کې ولوید

## (ب) د ځـنــاورتوب اصــول

په ټولو ځـناورو کې خـوګانو هوښیاره او لاربنـوده پېژنـه (قشر) جوړه کړې وه، او بیا په ټولو خوګانـوکي د شینا لـیک ښکلی و. هغه له انقلاب نه وروسته ، سم د لاسه « د چینارکوټ د فارم » نوم په سپین رنګ پاک کړ او پر ځای یې « د ځناورو فارم» د لویې دړې ( دروازې) د تختې په مخ ولیکه. له دې وروسته فارم په همدې نـوم مشهور شو او د ځناورورو واکمني رسماً پیل شوه .

مانو هم د شینا په څنګ کې خپله لکۍ اخوا دې خوا خوځوله او د نورو خوګانو پام یې ځان ته راګرځاوه چې د مشرتابه لیاقت لري. شینا او مانو په نورو ځناورو داسې زیرې وکړ: «موږ خوګانو په دې څو ورځو کې وکړی شول چې ستاسې د پوهیدو لپاره د ځناورتوب ټول اصول په اووه (۷) حکمونو کې لنډ او ساده کړو. دغه حکمونه به اوس د ګودام د کوټې په لوی دیوال لیکل کیږي او له دې وروسته به هم ستاسې اوهم د راتلونکو ځناورو په ژوند کې د نه بدلیدونکي اساسي قانون حیثیت لري.» شینا په ډیره سختۍ په پوړۍ جګ شو او اووه (۷) احکام یې په دې ډول ولیکل

۱ـ هرڅه چې په دوو پـښو ګرځي، غلیم دی
۲ـ هر څه چې په څلور پښو ګرځي، خپل دی
۳ـ هیڅ ځـناور به جامـې(لباس) نه اغـونـدي
۴ـ هیڅ ځــناور به پــه توشکه نــه بــیــدیږي
۵ـ هــیڅ ځناور به نشه نه کـــوي
۶ـ هــیڅ ځــناور بـــه بل ځـــناور نـه وژني
۷ـ ټول ځناور مساوي دي

د دوه املایي تیروتنو پرته، شینا ټول احکام سم ولیکل او د نورو ځناورو د پوهیدو لپاره یې څو ځـلې په لـوړ غـږ واورول. د دې سره سم، ټولو راپنډ شوو ځناورو د بشپړې موافقې په توګه خپلې لکۍ جګې کړې. خوګانو او سپیو ټول احکام زده کړل. خو نورو ساده ځناورو به چې یو حکم زده کړ، نو بل به ترې هیر شو. سوبړ په ټولو کې زوړ ځناور او ډیر بدخوی خر و. هغه په ټول فارم کې یواځینی خاروی و چې چا په خندا نه و لیدلی او دلیل به یې دا وایه چې «ما په ټول ژوند کې هیڅ شی د خندا وړ نه دی لیدلی.» سوبړ په انقلابي پیر کې هم لکه د پخوا غوندې په ارامۍ کارکاوه او«د خپلې خوښې کار» یې نه خوښیده. که چیرې به ورنه یو بل ځناور پوښتنه وکړه چې «ایا د محمد څرګندخان کاکا په شړلو او د انقلاب په راتګ ډیر خوښ نه یې؟» نو سوبړ به په مرموز ډول ځواب ورکاوه چې: «د خرو عُمر ډیر اوږد وي او تاسې تر اوسه پورې په فارم کې یو خر هم مړ نه دی لیدلی؟» زاړه سوبړ د زده کړې استعداد لاره، خو هیڅکله یې سر په دې نه خوړاوه چې خپل طبیعي استعداد په کاروا چوي. سوبړ د انقلاب په ماهیت او له انقلابه راوروسته په فارم کې د ځناورو د ممتازې طبقې په زورواکۍ او هر غولوونکي عمل پوهیده، خو په دې هکله یې د هیڅ خاروي سره خواله نه کوله. سوبړ ټول ګړاوونه زغمل او سره د ټولو زغمونو په دې بریالی شو چې په ټپه خوله د ځناورو په فارم کې تر پایه ژوندی پاتې شي. سوبړ په ټول فارم کې د شډل ډیر مخلص ملګری و. دواړه به یو ځای په مال څر کې خوا په خوا څریدل خو د یو بل سره به یې نه ګړیدل. شډل په ټول فارم کې تر ټولو غټ ځناور او خورا قوي اس و. هغه ډیر بې عقله وو خو د خپل قوت له امله ورته د فارم نورو ځناورو په درنه سترګه کتل. شډل د ځناورو په

انقلاب کې ټپي شو او د خوګانو له خوا ورته «د ځناور اتل لومړی درجه نښان» ورکړی شو. خوګانو پخپله ټک کار نه کاوه خو د نورو ځناورو په څارنه او لارښودنه کې ډیر تکړه وو. د سوډر پر خلاف، شډل پـه انقلاب ټینګ ولاړ و. شپه او ورځ به یې زیات کار کاوه او په هر مشکل کې به یې شعار ورکاوه چې: «زه به لا پسې سخت کارکوم!» شډل د زده کړې په کورسونوکې په دې بریالی نشو چې د «پ» له توري نه زیات پرمختګ وکړي. کله چې به یې د «ج» توری زده کړ، نو بیا به یې د «الف» او «ب» توري له یاده وتل. ټاکو چې د شډل غوندې د ریړې د راښکلو اس و، توله پټې (الفبا) یې زده کړې او یاده کړې وه، خو لیکل شوي توري یې یوځای کولی او لوستلی نشول. ټاکو له انقلاب نه وروسته دې ته متوجه و چې قوانین یا اووه (۷) احکام د ټولواک (دیکتاتور) او د هغه د کارمندانو په ګټه بدلون مومي

## (پ) په انقلاب کې نوې وتلې پټـه او مشروعیت یې

ټاکو به د انقلابي احکامو د بدلون په هکله نور ځـناور پوښتل، خو خپل نظر به یې د ځان سره ساته او د ځناورو په فارم کې د سوډر په شـان تر پای ژوندی پاتـې شـو

شینا د خوګانو د وتلي (ممتازي) پټـې په سر کې ولاړ و او د ځناورو د فارم لومړی واکمن و. د پڅ ذهنو ځناورو د اسانتیا په خاطر شینا مجبور شو چې اووه (۷) احکام پـه یوه وجیزه کې چې « څلور پښیزه ښه دي او دوه پښیزه بد دي» ساده اولنډ کړي. د شینا د اعلان له مخې دې نوې وجیزې د ځناورتوب د ټولو اصولو شمزی جـوړوله. د فارم اوسیدونکو چرګو، چرګانو، بتو، هیلیو او نورو مرغیو شینا ته خپله اندیښنه څرګنده کړه چې الوتونکي دوه پښې لـري او د نوي شعار مطابق دوه پښیزه رټل شو ي دي! شینا الوتونکو ته ډاډګیرنه ورکړه چې اندیښنه یې په ځای نه ده: «مرغان په خپلو ځانګونو(وزرو) کې هیڅ شی نشي نیولی بلکې یواځې یې د الوتنې لپاره استعمالوي. موږ د الوتونکو ځانګونو ته د پښو په سترګه ګورو. د انسان او ځناور ترمنځ د توپیر غټه نښه د انسان لاسونه دي او ددغې شیطاني وسیلې په لرلو سره انسان تل ددي وس لري چې له شیطانی او ورانکاری نه ډک کارونه تر سره کړي.» د شینا له وینا څخه وروسته، پڅ ذهنه ځناور د وجیزې په یادولو بوخت شول، او نوې وجیزه د ګودام په دیوال د اووه (۷) احکامودپاسه په غټو تورو ولیکل شوه. ډیروځناورو په یادو زده کړه چې «څلورپښیځ ښه دي او دوه پښیځ بد دي». میږې (ګډې) یواځینی څاروي وو چې په رمباړو کې ددغه شعار په تکرار نه ستړې کیدلې، خاصتاً هغه مهال چې په څرځای کې به راپنډې شوې وې. په شینا پسې دوهم معتبرخوګ مانو و. ده د شینا په ځای ځان د مشرۍ وړ ګاڼه

له انقلاب نه راوروسته، شینا د لویانو ځناورو زده کړې او روزنې ته ډیر ارزښت ورکاوه. دوه سپې لنګې شوې او نـهه (۹) څاربه کوکرې یې وزیږول. دغه کوکرې چې لږ لوی غوندې شول، نو مانو سم د لاسه په یو پـټ ځای کې پـخپله د روزنې لاندې ونیول. د اتوار په ورځ شینا په خپله انقلابي وینا کې نورو ځناورورته داسې ډاډګیرنه ورکړه:« که انسانان پیچلي ماغزه لري او لاسونه یې په هرڅه کې چلیږي، نو په مقابل کې یې موږ څـاروي څلوری غټې پښې، درانه سومونه،پیـر ورمیږونه، اوږده شونډکونه، تیره غاښونه، اوږدې لکۍ او کړی کړی ښکرونه لرو. که د انسان کمال د هغه په شیطانی مغزو اولاسونو کې پروت دی، نو په مقابل کې یې د ځـناورو هر غـړی له زور نه ډک دی. زمـوږ انقلاب د دغـه زور څرګـندوی دی. هـغه انقلاب چې دټولو انساني چټیاتو ګیلم یې جم کړ او پـر ځای یې د ځناورتوب روحیه ټینګه کړه.... په وړاندې د ډیر کار په لوري!» او داسې نور خوګان د څرګند خان کاکا په پخـوانی کور کې برنـد شول او نور څـاروي په خپلو پخوانیو غـوجـلو کـې پـریـوتل. ډیـر ژر د هګـیـو او شیدو تـول پیداوار د خـوګانـو خوراک شول او لـه دې امـلـه نور ځـناور ډیر اندیښمن شول. خوګانو له خپل مینځه خبرلوڅ ارګجه وګوماره چې نور سـاده ځناور د شیدو او هګـیـو د پیداوار د خـوړلو په اسـرار پـوه کـړي. ارګجه کریکه وویستله، ځناور یې راپنډ کړل او داسې استدلال یې ورته واوراوه: موږ خوګان ستاسي ټولو ډیر خواخوږي یو. د فارم د اداري او تنظیم دروند بار زموږ په اوږو پروت دی. موږ خوګان ستاسي د ښیګڼې لپاره هګۍ او شدې او د دوی پیداوار خورو. که ویې نه خورو،نو ناروغیږو او چې ناروغه شو، نو بیا خو ستاسي خدمت نه شو کولی. که موږ د

ځناوروخدمت و نکړو، نو بیا خو ناکامیږو. که موږ ناکام شو، نو بیا خو محمد څرګند خان کاکا چې د انسانانو ټولنې ته تبتیدلی دی بیرته راځي. بیا درته وایم چې که موږ شیدې او هګۍ او د دوی پیداوار ونه خورو، نو څرګند خان کاکا بیا راځي. په موږ کې داسې هیڅوک نشته چې د څرګندخان کاکا بیا راتګ دې وغواړي!» ارګجه د استدلال خاوند و.

## (ت) «د غواو د څپرجګړه»، نوی لاربنود او د بادي ژرنــدې پروژه

وروسته له ډیرو هلوځلو محمد څرګند خان کاکا په دې بریالی شو چې د نورو انسانانو په ملاتړ یو ځلې د ځناورو په فارم برید وکـړي. د غـواو د څپر په خوا کې ځناورو انسانانو ته کلکه ماتې ورکړه او څرګند خان کاکا بیرته د انسانانو ټـولـنې ته وتـښتیـد. ټول ځناور په ګودام کې راپنډ شول، لــکــې یې جګې کړې او د لکــیو په اتفاق یې دغه جـــګړه « دغـواو د څـپـر جګـړه» ونـــوموله. د بشر د حـقوقو اعلامیه اوس د ځناورو لپاره د سیالی وړ بـریـښیدله. د دغـې اعـلامیې په څیر ځناورو هم د ځــان لــپاره « د ځـناورو د حقوقو رمـباړه» جـګـه کـــړه. یوازې ناشکن ځناور د دې وړ وو چې د ځناورو د حقوقو په رمباړه کې برخه واخلي. ناشکن هغه ځناور وو چې : (۱) عــقل پروف یاني عایــق العقل او دفع الفکر وو، او (۲) د غواو د څپر په جګړه کې یې د ځناورتوب میرانه ښودلې وه

شینا چې په ټولو خوګانو کې تیزفکري ځناور وو، د بادي ژرندې دجوړولو په غم کې شو. د بادي ژرندې نظر یې د محمد څرګند خان کاکا د کتابتون په یو زاړه کتاب کې لوستلی و. شینا به نورو ځناورو ته ویل چې د بادي ژرندې له جوړولو نه وروسته به ځناور لږ او اسان کارکوي او هوسا ژوند به لري. د خوګانو له مینځه مانو ډیر سرتمبه وو، او په هیڅ شی کې یې چا ته تن نه ورکاوه. مانو په لومړئ ورځ د شینا سره په بادي ژرنده ټکر وکړ. د مانو په اند، د بادي ژرندې په ځای د ځناورو د اخور ډکول مهم و. د فارم ټول ځناور د دوه و(۲) شعارونو په اساس په دوه ډلو و ویشل شول: (۱) «که څوک غواړي چې د بادي ژرندې دجوړولو له لارې یې کار لنډ او اسان شي او ژوند یې هوسا شي، نو شینا ته دې رایه ورکړي»، خو(۲) «که څوک غواړي چې اخور یې ډک وي، نو مانو ته دې رایه ورکړي». ځناورو ته ددواړو خوګانو وړاندیزونه قوي ښکاریدل، خو په ټول فارم کې سوډر یوازېنی خاروی و چې د شینا او مانو په چلونو نه غولیده. سوډر به پټ پټ دځان سره ویل چې«که بادي ژرنده وي یا نه وي، په دواړو حالتونو کې به دځناورو کرغیرن ژوند دېخوا په شان دوام ولري.» زوړ او بدخوی سوډر ډیر شکمن خر وو.

مانو چې خورا کینه ناک خوګ و، یو ماښام پټ د غواو څپر ته ورننوت او د شینا د بادي ژرندې په نقشه یې خپلې سترګې ونښلولې، وچولی یې تریو کړ، شاته کینه پښه یې جګه کړه او د بادي ژرندې په نقشه یې میتیازې وکړې. بله ورځ ارګجه د شینا په امر ټول خاروي د ګودام په کوټه کې ددې لپاره راپنډ کړل چې د بادي ژرندې په هکله پریکړه وکړي. شینا دخپلې خبرلوځې په برکت ګڼ شمیر ځناور د بادي ژرندې په ښېګنو قانع کړل. مانو غوړونه څوړ کړل او ناڅاپه یې کریکه وویستله. یوه شیبه وروسته نهه (۹) غټ سپي، چې د خطرناکو لیوانو غوندې معلومیدل، په یو تراټ راوړسیدل او سم د لاسه یې په شینا ور ودانګل. شینا خپله لکی د سپیو له تیرو داړو نه راخلاصه کړه، څلور پښې یې خپلې کړې او څلور یې پردی کړې او د تل لپاره د ځناورو له فارم نه وتښتیده. په دې ډول ډګر مانو ته تش پاتې شو. ډاریدلي او هیبت وهلي ځناور سوکه سوکه (ورو ورو) په دې پوه شول چې دغه خطرناکه سپي هغه کوکري وو چې مانو په یو ځانله ځای کې پخپله روزلي وو. مانو ځان لاربنود اعلان کړ او سم د لاسه یې د ځناورو عمومي راپیډنې له مینځه ویوړې. مانو چې په خوا کې یې نهه سپي تیارسې ولاړ وو، نورو ځناورو ته وویل: «له دې وروسته به موږ خوګان ځانله راپیډیږو. زه به ددغو پنډیدنو مشر یم او پریکړې به تاسې ته د ارګجه په واسطه ابلاغوم. بیخي بیغمه اوسئ. له دې وروسته په هیڅ موضوع بحث مه کوئ!» زاړه او تریخ مزاجي خر سوډر چې سترګو یې چخې نیولې وې خپل شونډک په تش اخور ومښه او په زړه کې یې دې شعر ټوپونه ووهل

سپک مې مه ګڼــه تقریر دې راته مه کړه

زه په خپله خــر ګرئ کې غټ بــابــا یم

## که اخور مي له وښو او توبرې ډک شي
## وايـم تـاتـه چې لـه تـا بـه ډيـر دانا يـم

ځناور د شينا په شړلو او د مانو په نوي سياست اندينمن شول، خو د دې په ضد يې هيڅ له لاسه پو ره نشول. که چيرې د فارم ځناور له مخکي نه په استدلال اموخته شوي وای، ښايي د مانو د سياست او خپل سرى په ضد به راپورته شوي وای. ارګجه چې اوس د مانو په څنګ کي دوهم مهم خوګ و، نورو ځناورو ته وويل: «زه ډاډه يم چې د فارم ټول ځناور د ستر لاربنود مانو له سربښندني نه د زړه له کومي مننه کوي ځکه چې نور درانه او اضافي کارونه يې هم په خپلو مبارکو اوږو واخيستل. مشرتوب د ساعت تيرى شى نه دى، بلکي ډير دروند مسئوليت دى چې منل يې اطاعت لازموي.» د مانو په زورواکى کي ارګجه درې غټي وظيفي لرلي

۱ـ شړل شوى شينا بايد نورو ځناورو ته د خاين په صفت ور وپيژني

۲ـ د نورو ځناورو په ذهن کي کښينوي چي مانو «ستر لاربنود» دى

۳ـ ځناور په دې اخته (معتاد) کړي چي فارم ستر لاربنود ته اړتيا لري او

پخپله ستر لاربنود د نورو ځناورو چورلټ (مطلق) اطاعت ته اړ دى

د نورو پڅ ذهنو ځناورو د اسانتيا لپاره ارګجه په خپل ابتکار ټول مطالب داسي ساده او لنډ کړل چې «پخوا هرڅه خراب وو او اوس هرڅه ښه دي.» ډيرو ځناورو د ارګجه په خبرو چې خبرلوڅ خوګ وباور کاوه. د دې باور علت دا و چې د ځناورو له حافظي نه پخپله محمد څرګند خان کاکا او دهغه د دورې هرڅه وتلي وو او ټول «انساني چټيات» د ځناورو له مغزو نه مينځل شوي وو. پخپله مانو چي د شينا د بادي ژرندي په نقشه يې ميتيازې کړې وې، اوس د دغي ژرندي جوړول حتمي ګڼل

د عادت سره سم چې ځناور به د امرونو د اخيستلو لپاره راپنډ شول، مـانـو ورته دا ابلاغيه واوروله: «ما د يوې نوې پاليسى پريکړه کړي ده. زه د بادي ژرندي د جوړولو لپاره څرخونو، سيمټو، او د وسپني ميلو ته اړتيا لرم او ددغي اړتيا د پوره کولو لپاره لازمه ګڼم چې د انسانانو سره د سوداګرى اړيکي ټينګي کړم. زه بايد په انسانانو د چرګوهګى خرڅي کړم د دې لپاره چي پيسي لاسته راوړم او بيا پرې له انسانانو نه د بادي ژرندي د جوړولو ضروريات راونيسم. زموږځناورو بادي ژرنده د چرګو غټي سربښندني ته اړتيا لري. چرګي بايد ډيرې او غټي هګى واچوي. پام کوئ چي يوه هګى نه ماته شي او نه خوسا!» چرګي نه يوازې د نوې پټي (خوګانو) د خوراک لپاره مهمي وې، بلکي د نوي ستر لاربنود مانو د بادي ژرندي لپاره هم مهمي شوى

۲۰۱٦/۰۸/۲۸

د لمړى برخى پاى

ادامه لرى